بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۲۱ سلواغه ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۲ شعبان المعظم ۱۴۴۷ هـ ق | ۱۰ فبروری ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۲۵)

## د سترې محکمې د عالي مقام د تحريراتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دويمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د عالي مقام د تحريراتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱ ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست ته له وزارتونو، امارتي ادارو، کمېسيونونو، د (۳۴) ولايتونو له محکمو او نورو اړوند ادارو څخه (۶۲۵) رسمي ليکونه د سترې محکمې په عنوان رارسېدلي، چې له لاربښوونې وروسته اړوند مراجعو ته د وروستيو کړنو تر سره کولو په موخه صادر شوي.

۲ ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست ته له مخابراتو وزارت څخه (۱۲۳۵) رسمي ليکونه رارسېدلي، چې اړوند ځانګې ته راجع شوي.

۳ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست ته د رياست الوزراء محترم مقام، د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غير امارتي بانکونو او د سترې محکمې له مرکزي رياستونو څخه (۸۹۵) مکتوبونه، د استهدا ځانګې دوسيې، تجديد نظر، د صلاحيت تفويض، د محکمې تبديلۍ او د ملک د محاکمو هدايت غوښتنې اړوند اسناد د سترې محکمې په عنوان رارسېدلي و او له لاربښوونې وروسته اړوند مراجعو ته د وروستيو کړنو ترسره کولو په موخه صادر شوي.

٤ ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست له خوا ټول (۱۴۹۷۳) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د آرشيف مديريت ته صادر او وارد شوي، چې د لازمو اجراآتو تر ترسره کېدو وروسته د وروستيو کړنو د بشپړولو په موخه اړوندو ځانګو ته لېږل شوي دي. همدارنګه د آرشيف مديريت له لارې (۷۰۳۹) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د ملک د ولاياتو مرافعه محاکمو او نورو امارتي ادارو ته د وروستيو اجراآتو لپاره لېږل شوي او سربېره پر دې، ټول (۱۶۴۶) قطعې نشراتي پارسلونه هم د ملک د ولاياتو مرافعه محاکمو او نورو امارتي ادارو ته د تطبيق په موخه لېږل شوي دي.

٥ ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست له خوا د ملک له مرافعه محاکمو څخه ټول (۱۸۱) قطعې مکتوبونه ترلاسه شوي، چې له دې جملې (۱۴۸) قطعې مکتوبونه، چې د قبالو او نورو وثايقو د معلوماتو په اړه وو؛ اړوندو غوښتونکو محاکمو ته يې په خپل وخت رسمي معلومات لېږل شوي دي. همدارنګه (۳۳) قطعې مکتوبونه، چې د ۱۴۰۰ څخه تر ۱۴۰۴ هـ ش کلونو پورې د وثايقو (۱۷۹) جلده کلنۍ راپورونه د بېلابېلو محاکمو له لورې او د سترې محکمې د امنيت عامه ديوان له خوا (۷۳۰۰) قضائي قرارونه د ساتنې لپاره را لېږل شوي وو، په مخزن کې حفظ او ځای پر ځای شوي دي.

٦ ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست د مراجعينو (۴۰۸۶) عريضې د مقام د هدايت په اساس په اړوند دفاترو کې ثبت او بيا ځلې خپلو صاحبانو ته سپارلې دي او هغه عريضې چې محاکمو پورې اړوند نه وې او يا يې غوښتنې غير قانوني وې، په اړه يې هر مراجعه کوونکي ته لازمې لارښوونې شوې دي.

٧ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست لخوا (۵۰۴) مکتوبونو په اړه د سترې محکمې عالي مقام د هدايت په اساس لازمې کړنې ترسره شوې او اړوند اداراتو ته رسمي مراسلات لېږل شوي.

٨ـ په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست ته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) او د اسلامي امارت د محترم رئيس‌الوزراء د مقام او د رياست الوزراء د محترمې کابينې له لورې ټول (۱۸۰) قطعې احکام، (۴) قطعې فرمانونه او (۴) مصوبې را رسېدلي، چې د سترې محکمې د عالي مقام له هدايت وروسته د تطبيق او اجراآتو په موخه اړوندو مراجعو ته صادر شوي دي.



## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دويمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱ ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، د قضائي مفتشينو له لوري د روزګان، جوزجان، سرپل، کندوز، نيمروز، تخار، بلخ، ننګرهار او دايکنډي ولايتونو د محاکمو کړنې څېړل شوې او راپورونه يې د راتلونکو هدايتونو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوي دي.

۲ ـ د قضائي تفتيش عمومي رياست، له اساسي دندو څخه، د سترې محکمې د عالي شورا د مصوباتو، مقرراتو، لوايحو او طرزالعملونو دوامداره نظارت دی، چې د مفتشينو له لوري د دويمې ربعې په جريان کې ياد نظارت ترسره شوی دی.

۳ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، د قضائي مفتشينو لخوا ربعوار او کلني راپورونه، چې د ولايتونو له محاکمو څخه راټول شوي وو، د عادي څېړنو پر مهال څېړل شوي، توپيرونه او علتونه يې تشخيص او اړوندو مسؤولينو ته يې په اړه لازمې لارښوونې شوې دي.

٤ ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، د قضائي مفتشينو له لوري د عادي او اقتضائي کړنو پر مهال د هغو قضائي او اداري مسؤولينو په اړه، چې زيات تخلفات يې درلودل، راپورونه ترتيب او د راتلونکو هدايتونو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوي دي.

٥ ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، قضائي مفتشينو له خوا د محاکمو د عادي څېړنو پر مهال يو شمېر قضائي، اداري او خدماتي مسؤولينو ته لارښوونې شوې، ترڅو پر اسلامي امارت او محاکمو د خلکو باور لا زيات شي او مسؤولينو ته جدي او لازم هدايتونه شوي، چې د خلکو شکايتونو ته د اصولو سره سم او پر وخت رسېدنه وکړي.

٦ ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، ټولې (۱۸۱) اقتضايي عريضې ثبت کړې، چې له دې جملې (۱۴۰) عريضې څېړل شوې او (۴۱) نورې تر کار لاندې دي.

٧ ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست له خوا د ولايتونو د محاکمو او محبسونو د عادي اجراآتو د څېړنې پر مهال د کندوز، تخار، غزني، جوزجان، سرپل او نيمروز ولايتونو محبسونه کتل شوي؛ د محبوسينو شکايتونه ثبت او ستونزې يې د وضاحت او حل په موخه له مرافعه محاکمو، ښاري محاکمو او نورو اړوندو مراجعو سره شريکې شوې دي.

**د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ﵁ په دوره کې قضاء:**

**لومړۍ برخه:**

پېژندنه: ابو حفص، عمر د خطاب زوی دی، هغه د نفيل، هغه د عبدالعزی، هغه د رباح، هغه د عبدالله، هغه د قرط، هغه د رزاح، هغه د عدي، هغه د کعب، هغه د لؤی اوهغه د غالب زوی دی.

له ده سره د ابوبکر ﵁ د وينا په اساس د هجرت په ديارلسم(۱۳) کال د جمادی الآخرة مياشت کې بيعت وشو، چې د خلافت موده يې ۱۰ کاله، ۶ مياشتې او ۴ ورځې و ه او د ۶۳ کلنۍ په عمر، د هجرت په ۲۳ کال، د ذوالحجې مياشتې څخه ۴ ورځې مخکې د چهارشنبې په ورځ شهيد کړل شو.

اخذليک: تتمة النظام، ۶۴ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې د قضائي معاونیت د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې د مهمو اجراآتو راپور

د سترې محکمې قضائي معاونیت د ۱۴۴۷هـ ق کال د دویمې ربعې په جریان کې لاندې مهم اجراآت ترسره کړي دي:

۱ ــ د دویمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې قضائي معاونیت ته له بېلابېلو ارګانونو (۸۷۰) مکتوبونه راغلي، چې د قضائي معاون صاحب تر اجراآتو وروسته بېرته اړوند ارګانونو ته لېږل شوي دي.

۲ ــ د دویمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې د محترم قضائي معاون له تائید او تعدیل وروسته (۴۵۲) تعزیراتي دوسیې اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

۳ ــ د دویمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې قضائي معاونیت ته (۲۵۴۳) د حقوقي او قضائي موضوعاتو عریضې راغلې چې د قضائي معاون صاحب تر هدایت وروسته احکام او اصحاب دعوی یا اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي؛ له دې ډلې یې (۷۰۸) عریضې مستردې شوې هم دي.

## د سترې محکمې د پلان او پالیسۍ ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې پلان او پالیسۍ ریاست د ۱۴۴۷هـ ق په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه سرته رسولي دي:

۱ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د میاشتنیو او ربعوار راپورونو له مخې، د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو په شمول د ۳۴ ولایتونو د مرافعه محاکمو، ښاري ابتدائیه محاکمو او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو راپورونه راټول او وروسته له توحید، اړوندو ادارو ته د اجراآتو په موخه لېږل شوي. دغه راز د ښځو د میراث او ملکیت د حقونو په اړه ځانګړي راپورونه هم په تاکل شویو وختونو کې راټول، د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو د اورېدو وزارت، د چارو اداري لوی ریاست، د سترې محکمې د محترم عالي مقام دفتر او اداري معاونیت ته د بعدي اجراآتو په موخه لېږلي دي.

۲ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د ۳۴ ولایتونو د مرافعه محاکمو د یوې ربعې د حاضرۍ راپورونه (میزان، عقرب، قوس) راټول او له توحید وروسته یې اړوندو ادارو ته د بعدي اجراآتو په موخه لېږلي دي.

۳ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) او د ریاست الوزراء عالي مقام د ۶۵ قطعه احکامو راپورونه راټول او له ترتیب او توحید وروسته یې له اړوند مقاماتو سره د بعدي اجراآتو په موخه شریک کړي دي.

٤ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د قضائي اجراآتو راپور، چې د ۱۴۰۴ کال له درېیمې ربعې سره سمون لري، د تمیز اړوند د (۱۰) دېوانونو، مرافعه محاکمو، ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابندائیه محاکمو (۳۴ ولایتونه) او د حقوقو آمریتونو اجراآت په جلاجلا جدولونو کې ترتیب، د سترې محکمې اړوند معاونیتونو، ریاستونو او د چارو اداري محترم لوی ریاست ته یې د وروستیو اجراآتو په موخه لېږلي دي.

٥ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د اداري سلسلې او د اقتصاد وزارت غوښتنې ته په پام سره د سترې محکمې د پراختیایي پروژو د پرمختګ، خنډونو او ستونزو راپورونه د ۱۴۰۴ مالي کال د لومړۍ، دویمې او درېیمې ربعې لپاره ترتیب او وزارت ته لېږلي دي.

٦ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست له خوا د قضاتو لپاره د شلو (۲۰) استوګنیزو کورونو د جوړولو پروژه په اړوند ساحه کې په دوامداره توګه تر څارنې لاندې ده او د پرمختګ راپورونه یې په ټاکلي وخت اړوندو مقاماتو ته وړاندې کېږي. همدارنګه، د یادې پروژې د پخواني قرارداد له لغوه کېدو وروسته د حساب ورکولو بهیر او د ساختماني موادو لابراتواري ازموینې او څارنه ترسره شوې ده.

٧ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست پورې اړوند د نیمه کاره دوه منزله مدرسې او سپټیک څاه د بیا رغونې پروژه او همدارنګه د کابل ښاري ابتدائیه محکمې لپاره د مسجد د سایه‌بان او جنراتوار د جوړولو پروژه په دوامداره توګه څارلې او د پرمختګ راپورونه یې پر وخت اړوندو مسؤولینو ته سپارل کېږي.

٨ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د سترې محکمې په انګړ کې د نظامي منسوبینو لپاره د دوه منزله ودانۍ او تهکوي د جوړولو پروژه تر څارنې لاندې نیولې ده او د کانکریټ او فولادي سیخونو تخنیکي ازموینې په لابراتوار کې ترسره شوې.

٩ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د کابل ولایت د مرافعه محکمې د مخزن لپاره د نوي ځای نقشه او برآورد ارزولی دی او د ساحې عملي څارنه یې ترسره کړې، چې د سترې محکمې د اداري معاون په ګډون یو پلاوي د یادې سیمې د بیا رغونې بهیر له نږدې څارلی دی.

۱۰ ــ په دویمه ربعه کې د پلان او پالیسۍ ریاست د ابتدائیه محکمې د ترانسپورت آمریت لپاره د ورکشاپ د جوړولو پروژه په منظم او دوامداره ډول تر څارنې لاندې نیولې ده.

## گزارش مختصر ریاست عمومی دفتر مقام عالی محترم ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۴۷ هـ ق

ریاست عمومی دفتر مقام عالی محترم ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۴۷ هـ ق فعالیت‌های مهم ذیل را انجام داده است:

۱- در ربع دوم به تعداد (۳۶۹۸) قطعه مکاتیب به‌منظور اخذ هدایت از محاکم و ادارات مختلف امارت اسلامی واصل گردیده که پس از هدایت مقام محترم عالی، به بخش‌های مربوطه ارسال شده‌است.

۲- طی ربع دوم به تعداد (۱۷۵۰) دوسیه تعزیری و حقوقی از طرف مقام عالی ستره محکمه به معاونیت قضائی ارسال گردیده‌است.

۳- در ربع دوم دو قانون به دفتر مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان جهت منظوری ارسال شده‌است.

٤- طی ربع دوم محترم شیخ عبدالحکیم (حقانی) صاحب قاضی‌القضات و رئیس ستره محکمه با دوازده تن از مسؤولین و مراجعین دیدار نموده‌است.

۵- در ربع دوم رئیس عمومی دفتر مقام عالی ستره محکمه با (۱۰۰) تن از مراجعین به‌منظور شنیدن و حل مشکلات‌شان دیدار نموده است.

٦- طی ربع دوم به تعداد (۸۸) تن از طریق غرفه معلوماتی این ریاست اجازه ورود داده شده و خواست‌های‌شان شنیده شده‌است.

۷- در ربع دوم از طرف مقام محترم عالی تعداد (۴۸) حواله اجرا گردیده‌است.

۸- در ربع دوم سه نشست هیئت مرکزی رؤیت هلال تنظیم و برگزار گردیده‌است.

۹- در ربع دوم (۱۲) نشست هیئت نصاب تعلیمی را تنظیم و برگزار نموده‌است.

۱۰- طی ربع دوم به تعداد (۴۶) دوسیه و پیشنهاد به دفتر مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان ارسال گردیده‌است.

## د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې لنډ راپور

د حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- د ۱۴۴۷هـ ق کال په دویمه ربعه کې (۱۰۱,۱۸۶) حقوقي عرایض ثبت او په اړه یې اجراآت شوي دي.

۲- په دویمه ربعه کې د مدني، تجارتي او فامیلي حقوقي موضوعاتو اړوند (۱۷,۷۷۱) دوسیې د اړوندو محاکمو له خوا د قانوني مراحلو له مخې پروسس او تعقیب شوي دي.

۳- د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې (۱۶,۷۳۱) حقوقي قضیې د سولې او مصالحې له لارې حل او فصل شوي دي.

۴- د مدني، تجارتي او فامیلي قضیو په تړاو د صادره پرېکړو د تطبیق او تنفیذ په برخه کې لازم اجراآت ترسره شوي دي.

۵- د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې د محاکمو (۲,۸۰۵) نهایي فیصلې او قضائي قرارونه تطبیق او نافذ شوي دي.

## د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ ــ د دویمې ربعې په جریان کې د مرکزي تمیز عالي ریاست د تېرې اداري اړوند (۴۱۲) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې له دې جملې څخه (۱۱۲) جلده د ځانګړو محاکمو دوسیې (د پخوانۍ اداري د محاکمو د پرېکړو په تړاو د قضائي هیئت فیصلې) تائید شوې، (۱۶۷) جلده دوسیې نقض شوې او (۱۳۵) جلده دوسیې د تکمیل او مهر لګولو په موخه د مکتوب له لارې بېرته اړوندو مراجعو ته مستردې شوي دي.

۲ ــ د دویمې ربعې په جریان کې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته له اړوند مراجعو څخه (۱۶۶۹) دوسیې را رسېدلې دي، چې په دې کې (۹۶۶) جلده د تمیز غوښتنې دوسیې، (۲۲۴) جلده حقوقي دوسیې، (۷۰) جلده جزائي دوسیې او (۴۰۹) جلده متفرقه دوسیې شاملې دي.

۳ ــ د دویمې ربعې په جریان کې یاد ریاست ته (۲۴۳۹) عریضې را رسېدلې دي، چې له دې جملې څخه (۱۳۸۸) عریضې تر اړینو اجراآتو او احکامو وروسته اصحاب دعوی ته سپارل شوې، (۸۱۶) نامرتبطې عریضې مستردې شوې او (۲۳۵) عریضې له اعتراضونو سره یو ځای له اړوند دوسیو سره ضمیمه شوې دي.

## د سترې محکمې قضائي زده‌کړو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي زده‌کړو عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- په دویمه ربعه کې د قضائي زده‌کړو عمومي ریاست لخوا د خوست ولایت مرافعه، د ثبت اسناد او وثایقو آمریت او د ټولو ابتدائیه محاکمو (۲۸) منسوبینو لپاره د مرافعې محکمې په مقر کې درې ورځنی سیمینار جوړ شوی دی.

۲- په دویمه ربعه کې د قضائي زده‌کړو عمومي ریاست لخوا د سترې محکمې د مرکز او ولایتونو د اختصاصي محاکمو (۸۸) برحاله قاضیانو، مفتیانو او محررینو لپاره د یاد ریاست په تالار کې، (۱۳) ورځنی سیمینار جوړ شوی دی.

## د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه (۱۶) شرعي فتواوې صادرې کړې، چې له یادو فتواوو څخه د ټولو محاکمو قاضیان او قضائي غړي د شرعي لارښوونې په موخه استفاده کوي او د قضایاوو د حل او فصل لپاره مستند شرعي دلیل جوړوي.

## د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دويمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د مالي او اداري عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ــ د مرکزي رياستونو د اړتياوو د پوره کولو په موخه، د لومړۍ، دويمې او درېيمې ربعې په جريان کې د پټرولو، ډيزلو تېلو او روغتيايي محصولاتو د پېر، د ليلام وړ (۱۲) موټرو د اسنادو د ترتيب او د ۱۰ سلنه تخفيف د تطبيق، د خدماتي کارکوونکو د جامو د برابرولو او وېش، د څلورو زونونو د محاکمو د کمپيوټرونو او اړوندو وسايلو، د اضافي بخاريو د راټولولو، د سترې محکمې د وېشل شويو موټرسايکلونو د تثبيت او نوي کولو او همدارنګه د خوراکي او تنظيفاتي موادو د ارزونې، قېمت ټاکلو، اکمال او توزيع لپاره ځانګړي هيئتونه ټاکل شوي دي.

۲ــ د سترې محکمې د پرسونل او مراجعينو د ستونزو د حل او هغوی ته د اسانتياوو د رامنځته کولو په موخه، د مرکزي دفترونو د اسنادو د ساتنې لپاره د مسلکي پرسونل له لوري الماری جوړې شوې، د برق جنراتورونه د امنيتي او اجرائيوي قطعې څخه څلورو زونونو او د کابل ولايت مخزن ته انتقال، نصب او فعال شول.

۳ــ د سترې محکمې مرکزي دفترونو، د کابل ولايت مرافعه محکمې، د نشه‌يي توکو او مسکراتو اړوند محکمې او د څلورو زونونو د محاکمو د ايرکنډيشن سيستمونه ترميم، نصب او فعال شول.

٤ــ د مرکزي دفترونو او زونونو د محاکمو د ودانيو د رنګمالۍ براورد وشو، دکابل ولايت د مخزن او د څلورو زونونو د محاکمو ويرنګ‌کاري بشپړه شوه او د څلورو زونونو د مراجعينو د داخلي او خارجي لارو دېوالونه اعمار او پلستر شول.

٥ــ د سترې محکمې د روغتيايي کلينيک له لوري (۵۵۰۳) نظامي او ملکي ناروغو کارکوونکو ته د پانسمان، زرقياتو، سيروم، اکسيجن او د زړه ګراف برخو کې روغتيايي خدمتونه وړاندې شول.

٦ــ دکابل ولايت د مرافعه محکمې د مخزن لپاره د (۳۴) فلزي الماريو او زغره‌والو دروازو د جوړولو پروژه بشپړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه او د ښاري ابتدائيه محاکمو په پارکينګ کې د ترانسپورت آمريت د وسايطو د ترميم د ورکشاپ پروژه تر شاوخوا (۵۰) سلنه پرمختګ لري.

۷ــ د ده‌سبز، سروبي او استالف ولسواليو ابتدائيه محاکمو ته په ترتيب سره د (۴)، (۱۲) او (۲,۵) کيلو واټه لمريزې سولري برېښنا سيستمونه نصب او فعال شول.

۸ــ د قضائي معاونيت او د مقام د تحريراتو د دفتر د پراختيا او ډيکوريشن چارې عملي شوې او د امنيتي قطعاتو د قوماندانۍ لپاره د دوو ودانيو د کانکريټ‌ريزۍ، د ذخيرې فعالولو او د سپتيک څاه د جوړولو پروژې تطبيق شوې.

۹ــ د ښاري ابتدائيه محاکمو د مسجد د صفې پراختيا، د موټرو د تمځای لپاره د سايه‌بان جوړول، د جنراتورونو کانکريټي صفې جوړول او د مامورينو د تګ راتګ د زغره‌والې دروازې ترميم ترسره شو؛ همدارنګه د سترې محکمې په مرکز کې د مجاهدينو د استوګنې د دوه‌منزله ودانۍ پروژه شاوخوا (۷) سلنه پرمختګ لري.

۱۰ــ د کاپيسا او هلمند ولايتونو د ښاري محاکمو د ملکيتونو نقشه او طرحه ترتيب شوه، د مجاهدينو د استوګنې لپاره (۵) باب کانکسونه انتقال شول، د هلمند او کاپيسا د ښاري محاکمو د ودانيزو پروژو لپاره د خاورې ازموينه ترسره او اړوندو ادارو ته يې اسناد ولېږل شول؛ همدارنګه، د ښکته ميوند ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د ځمکې د انتقال چارې تعقيب شوې، د ۱۴۰۴ مالي کال لپاره د ميدان وردګ او بغلان ولايتونو ښاري محاکمو او د زابل د سيوري او کندهار د ښکته ميوند ولسواليو د محاکمو تخنيکي اسناد ترتيب شول او د يادو محاکمو د ځمکو پروتوکولونه د کرنې وزارت د اراضي رياست سره شريک او لاسليک شول.

۱۱ــ په بګرامي ښارګوټي کې د سترې محکمې د مرکز د (۴۰) مستحقينو د اپارتمانونو د وېش په اړه ګډه ناسته ترسره شوه، چې پرېکړه وشوه د عالي مقام د حکم تطبيق به د سترې محکمې، د ماليې وزارت او د ملي انکشاف شرکت ترمنځ د درې‌اړخيزې تفاهم‌نامې له مخې ترسره کېږي؛ اړونده تفاهم‌نامه ترتيب او د منظورۍ لپاره د اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام ته ولېږل شوه. د سترې محکمې د ۱۴۰۵ هـ ق مالي کال بودجه د مرکز او ولايتونو د محاکمو د اړتياوو پر بنسټ ترتيب، تائيد او د ماليې وزارت ته راجع شوه.

## د سترې محکمې دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دويمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي:

۱ـ په دويمه ربعه کې د دعوت او ارشاد رياست لخوا هره ورځ د ماسپښين تر لمانځه وروسته د سترې محکمې د ټولو رياستونو کارکوونکو ته د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا د ورکړل شوي درسي نصاب مطابق، نيم ساعت تدريس شوی دی.

۲ـ په دويمه ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د فرمان مطابق د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون، فرمانونو، حکمونو، هداياتو او لارښوونو جريده، د لارښوونې کتاب، د شرعي نظام په استحکام کې د اطاعت اغېزې، د لمانځه د اقامې په اړه فرمان او توصيې او د بدو رواجونو د مخنيوي په اړه فرمان تدريس شوي دي.

۳ـ په دويمه ربعه کې د دعوت او ارشاد رياست لخوا په هره اونۍ کې دوه ځلې د سترې محکمې ټولو غړو ته اصلاحي بيان او د سترې محکمې د محافظتي قطعې مجاهدينو ته په بېلابېلو وختونو کې د نظامي درسونو اړوند کتابونو تدريس شوي دي.

۴ـ د دعوت او ارشاد رياست لخوا په يوه ربعه کې درې ځله د سترې محکمې مرکزي رياستونو نظارت شوی؛ په ترتيب سره هره ورځ د يوه رياست څخه ليدنه شوې او هغوی ته د لا ښه فعاليتونو ترسره کولو لپاره نيکې سپارښتنې شوې دي.

۵ـ د دعوت او ارشاد رياست لخوا د سترې محکمې محترمو شيوخ کرامو، رئيسانو، آمرينو، قاضيانو او قضائي غړو ته په يوه ربعه کې درې مذاکراتي غونډې جوړې شوې دي.

۶ـ د دعوت او ارشاد رياست لخوا په يوه ربعه کې درې ځله د کابل ولايت مرافعه، وثايقو، قضائي زده کړو، ښاري ابتدائيه، نشه‌يي توکو او نظامي محاکمو، د حقوقو عمومي رياست او د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند منسوبينو نظارت شوی او هلته د اصلاحاتو په موخه ځانګړې جلسې جوړې شوې دي.

## دکابل ولايت مرافعه، د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونيو کې (۳۶۰) دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولايت مرافعه محکمې دېوانونو، د نشه يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونيو کې (له ۱۶ /۷ /۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹ /۷ /۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې د اجراآتو راپور په لاندې ډول دی:

**د مرافعه محکمې د دېوانونو اجراآت:**

د کابل ولايت مرافعه محکمې دېوانونو ته په دوو اونيو کې (۱۷۲) دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۰۱) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴) دوسيې فيصله شوې، (۱۶) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د نشه يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې اجراآت:**

يادې محکمې ته په دوو اونيو کې (۲۱۷) دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۰۳) دوسيې فيصله شوې، (۲) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د اختصاصي محکمې اجراآت:**

يادې محکمې ته په دوو اونيو کې (۲۷) دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۷) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولايت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسيدگی به (۴۰۰) دوسيه، به تعداد (۱۹۱) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولايت غزنی، دواوين مرافعه، وثايق، ابتدائيه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائيهٔ ولسوالی‌ها از تاريخ (۱۵/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثايق به شرح ذيل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۱۷۸) دوسيه حقوقی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳۳) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۸۲) دوسيه فيصله شده، (۷۱) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه های باقی مانده ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۱۴۰) دوسيهٔ جزائی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۵) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۵۹) دوسيه فيصله شده، (۱۰) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه های باقی مانده ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان دو هفته در محاکم ولايت غزنی به تعداد (۱۹۱) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده‌است.

## محاکم ولايت پنجشير طی يک ماه علاوه بر رسيده گی به (۹۱) دوسيه، به تعداد (۱۳۳) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولايت پنجشير، دواوين مرافعه، وثايق، ابتدائيه شهری و ابتدائيهٔ ولسوالی ها از تاريخ (۱/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۹/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثايق به شرح ذيل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۴۶) دوسيه حقوقی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۴) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسيه فيصله شده، (۸) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه های باقی مانده ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۲۳) دوسيه جزائی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۱۲) دوسيه فيصله شده، (۱۰) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه های باقی مانده ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت پنجشير به تعداد (۱۳۳) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده‌است.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست لپاره نوی رئيس او مرستيال معرفي شول

نن ورځ د ۱۴۴۷ هـ ق کال د شعبان میاشتې په ۱۹مه نېټه، د یوې غونډې په ترځ کې محترم ملا نجیب الله رفیع د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو د نوي رئیس په توګه او محترم مولوي مطیع الله فاروقي د یاد ریاست د ملکي محاکمو د مرستیال په توګه رسماً معرفي او په کار یې پیل وکړ.

د معرفت په دې غونډه کې، چې د قرآن کریم په تلاوت سره پیل شوه، د سترې محکمې ګڼ شمېر منسوبینو او مسؤولینو ګډون کړی و، د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله درویش خپله وینا واوروله. نوموړي د نویو مسؤولینو پر ټاکنه خوښي وښوده او د نظام پر ارزښت او ساتنه یې ټینګار وکړ.

مفتي عتیق الله درویش صاحب وویل، موږ الله پاک له کلونو سترړیا او سترو شهادتونو وروسته په یو داسې سپېڅلي نظام نازولي یو چې د سترو قربانیو په نتیجه کې ترلاسه شوی دی. د دې نظام د احیاء او قیام په هدف په لکهاوو شهیدان ورکړل شوي دي؛ نو داسې یو نظام د ساتنې لپاره هم سترې قربانۍ غواړي. که خدای مکړه، په داسې نظام کې د تللو شهیدانو له ارمانونو سره غدر او خیانت وشي، نتیجه به یې ډېره بده او سخته وي.

مفتي عتیق الله درویش صاحب د ولس سره د نرم چلند په اړه زیاته کړه:

دلته هر چا درد لیدلی دی؛ کونډې، یتیمان او د شهیدانو پلرونه به ستاسو دروازې ته راځي. د الله تعالی په خاطر له دې ولس سره د رحم معامله کوئ، په نرمۍ یې پوه کوئ او له قناعت وروسته یې رخصت کوئ.

نوموړي د مشرتابه په اړه وویل، چې زموږ د نظام ځانګړنه دا ده چې ډېری مسؤولین یې حفاظ، علماء او شیوخ دي، چې دا د ولس لپاره یو ستر ویاړ دی. هغه زیاته کړه چې په داسې نظام کې خدمت کول د الله تعالی پېرزوینه ده او باید د موقف پر ځای د خدمت فکر ولرو.

د غونډې په پای کې، مفتي درویش صاحب د تېرو مسؤولینو له مخلصانه خدمتونو او مسلکي هڅو مننه وکړه او نویو مسؤولینو ته یې، چې په صف کې د نیکو خدمتونو مخینه لري، په چارو کې د الله تعالی له دربار څخه د توفیق او بریا دعاء وکړه.

## په کابل ولايت کې (۳۷) مجرمينو او متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د ښاري ابتدائیه او د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محاکمو د پرېکړو له مخې (۳۷) کسانو ته د نشه‌یي تابلیتو (ذیکپ، تابلیت کا)، شیشې، الکولي مشروباتو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو او غلا په تور، د ۱۴۴۷ هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې پر ۲۹ مه او شعبان المعظم میاشتې په ۱۳ مه او ۱۴مه نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محاکمو یاد مجرمین او متهمین له اوو میاشتو څخه تر درېیو کالو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې یادې پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو او متهمینو تطبیق شوې.

## حکم جزای تعزیری بالای سه مجرم در ولايت فارياب تطبيق شد

به اساس فیصله محکمه ابتدائیه ولسوالی شیرین تګاب ولایت فاریاب بالای سه تن به جرم تولید، فروش و نوشیدن شراب، روز دوشنبه مؤرخ ۱۴/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمه ابتدائیه مجرمین را به دو ـ دو سال حبس تنفیذی و ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.


حکم جزای تعزیری در حضور رئیس محکمه ابتدائیه مفتی، علماء کرام، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری مردم عام تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولايت کاپيسا تطبيق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی الهسای ولایت کاپیسا بالای دو تن به شمول یک زن که متهم بر فعل زنا بودند؛ به تاریخ ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهمین را به ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور مولوی عین الدین (معتصم بالله) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی الهسای؛ اعضای قضائی، ولسوال، قوماندان امنیه ولسوالی، مدیر استخبارات، مجاهدین، کارمندان ولسوالی و مردم عام تطبیق شد.



## د خېښی، ودونو، مصيبتونو او همداراز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د

## عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

**(لومړۍ برخه)**

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله و اصحابه اجمعین.

د خېښی، ودونو، مصیبتونو او همداراز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) فرمان

**ګڼه:(۱۷)**

**نېټه: ۱۴۴۶/۹/۱۶ هـ ق**

د الله تعالی دین چې خاتم النبیین حضرت محمد (صلي‌الله علیه وسلم) انسانانو ته رسولی او بیان کړی دی، د دنیا او آخرت هر ډول نېکمرغي، ښېرازي او خوښي پکې نغښتې ده، چې عملي کولو سره یې یقیناً د انسانانو ټولې ستونزې حل او د ژوند په هره مرحله کې یې له بې‌سارې اسانتیاوو څخه برخمن وي، الله تعالی ته خپل دین خوښ دی او خپلو بندګانو ته یې د مهربانۍ له مخې د فکر، تدبر او عملي کولو بلنه ورکړې ده او د ژوند په ټولو ساحو کې د دین عملي کولو لپاره یې حضرت محمد (صلی‌الله علیه وسلم) نمونه ګرځولی دی او د هرهغه څه چې نبي (صلی‌الله علیه وسلم) امت ته وړاندې کړي دي د عملي کولو او له هر هغه څه چې منع کړي یې دي د ځان ساتلو حکم یې کړی دی.

لکه څنګه چې الله جل جلاله په لاندې آیتونو کې فرمایلي دي:

ژباړه: خامخا په تحقیق سره دی تاسو لره په (کار د) رسول الله کې اقتداء غوره نېکه (الأحزاب:۲۱) (کابلی تفسیر) .

همداراز الله (جل‌جلاله) فرمایلي دي:

ژباړه: او هغه څه چې درکړي تاسې ته رسول (د الله)، نو واخلئ هغه؛ او هغه څه چې منع کوي (رسول الله) تاسې له هغه څخه، نو بېرته شئ (مه یې غواړئ) (الحشر،آیت:۷) (کابلی تفسیر).

بله دا، هر هغه څه چې په دین کې نه وي، رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) هغه مردود او باطل ګرځولي، لکه څنګه چې له حضرت عائشې (رضي‌الله تعالی عنها) څخه روایت دی چې رسول الله (صلی‌الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

ژباړه: چا چې داسې یو عمل وکړ چې زموږ په دین کې نه وي، هغه مردود او باطل دی[1].

له حضرت شعبي (رحمه‌الله تعالی( څخه روایت دی چې حضرت عمر بن الخطاب (رضي‌الله تعالی عنه) وفرمایل:

ژباړه: ای خلکو! جاهلانه (د سنتو خلاف) طریقې سنتو ته واړوئ (د سمون کوشش یې وکړئ)[2].

پورته آیتونو، حدیث شریف او مبارک اثر ته په کتو، اسلامي امارت غواړي چې د ژوند په ټولو ساحو کې د سنت خلاف طریقې سنت ته واړوي؛ بناءً دا چې، نکاح (واده کول) سنت ده؛ خو متأسفانه زموږ په ټولنه کې له دغه شرعي او مسنون عمل سره ناسم او تاواني رواجونه تر دې حده ګډ شوي چې خلک یې نه یوازې په دنیوي لحاظ له ملاماتوونکو مالي زیانونو سره مخ کړي؛ بلکې په دیني لحاظ هم ډېر منکرات پکې ترسره کېږي.

١ - رواه مسلم في صحيحه، د حديث شمېره (٣٢٤٣)، قال اهل اللغة: الرد هنا بمعنى المردود: أي فهو باطل غير معتد به و هذا الحديث قاعدة عظيمة من قواعد الدين و هو من جوامع الكلم التي أوتيها المصطفى (صلى الله عليه وسلم) فإنه صريح في رد كل بدعة وكل مخترع، وهو صريحة في ترك كل محدثة سواء أحدثها فاعلها أو سبق إليها، وهذا الحديث مما ينبغى حفظه و إشاعته واستعماله في إبطال المنكرات فإنه يتناول ذلک كله، شرح النووي على صحيح مسلم (١٨/٤)ط: دارالكتاب العربي، بيروت لبنان.

٢ - رواه البيقي فى السنن الكبرى ، مسلسله شميره (١٥٣٢٢) .

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳